سردار محمد همدرد

۲۰۱۷/۰۴/۰۲

# وران وطن ودان امید!

## د هلمندي سپين ږيري د ميړاني کيسه:

د ملتونو پرمختګ او شاتګ د همدغو ملتونو په هوډ، عزم او استقامت پوري اړه لري، د نړۍ تاريخ که وګوروهغه ملتونه بريالي او ترخپل منزله رسيدلي دي چې په ژوند کي يې د ناخوالو سره مبارزه کړې ده.
ځکه چې د انساني ژوند جوړښت هم د ناخوالو څخه پيل کيږي، بيا چې د ناخوالوسره څوک مبارزه وکړي هغه بيا ډيرښاغلي دي.
د ستونزو برعکس چې کوم کسانوته زمينې برابري سوي دي هغوی دومره د قدر وړ ندي ځکه چې د دوی په کارکرد ګۍ کي د امکاناتو زور وو.
اوس بياپرخپلي مخکنۍ خبري تينګارکوم، چې باهمته او د هوډ نه ډکو انسانانو خپله ټولنه ژغورلې ده او هغو کسانو خپل حوصله او زړه يې بايللی دی او د ټولني په وړاندي يې ځان ناکامه ښودلی دی، هغه ملتونه محوه سوي او يا د وخت د ظالم په وړاندي يې سرټيټ کړی دی، او ولسونويې په پيړيوپيړيو د غلامۍ ژوند تيرکړی دی.
زه يوشی چې ډيرواضح يې بايد ووايو زموږ په ټولنه کي چې څه روان دي هغه ډيرخطر ناکه دي په نړۍ کي به يوازنی هيواد وي چې د۴۰ کلني جګړې څخه تيرېږي د نړۍ د وخت زبرځواکونو خپل زوردلته آزمايلی دی او د ډول ډول تخريب او د دې وطن د تباهۍ لپاره يې پروګرامونه پلي کړي دي په داسي يوه ټولنه کي چې انساني کرامت تر پښولاندي وي ،جګړه وي ،لوږه وي، بې روزګاري وي نو بيا ډيره ستونزمنه ده چې انسان دي خپل حوصله اومورال ونه بايلي.
يعني زه به ډيرجرأت سره ويلای سم کوم حالت چې پردې ملت او ټولنه تيرېږي داکه پرنورملتونو وای اوس به هم غلامان وای اوهم به يې د يوتاريخي ملت خبره نسوه کولای.
د دې ملت يوه ځانګړنه داده چې دا ملت سر نه ټيټوي او دې ملت د تاريخ په اوږدو کي ثابته کړې ده چې هر زبرځواک ته يې ماته ورکړې ده او پرځان يې تاريخي تور نه دی پرايښی.
زه نه غواړم چې ډيراوږد بحث ته ولاړسم زه ديوسپين ږيري د ميړانې او اتلولۍ کيسه کوم داسپين ږيری چې شاوخوا اويا کاله عمر لري تيره ورځ يې د اراکوزيا پوهنتون په انګړ کي په هغه ازموينه کي برخه واخيستل چې په لسګونه ځوانان او محصلين موجود وه، نوموړې ازموينه د اراکوزيا پوهنتون لخوا د دولسم ټولګۍ څخه فارغ سوي کسانو د ليسانس د زده کړولپاره ترسره سوه.
اوس خبره داده چې د دې ملت په ولسونو کي مشکلات نسته ولسونه يې اوس هم د هوډ اوعزم خاوندان دي ښه بېلګه يې د نوموړي سپين ږيري ده چې په دغه عمرلادی لوړو زده کړوته ادامه ورکوي.
يعني زه يوشی بياهم وايم په نړۍ کي داسي يوه بيلګه ماته څوک نسي ښودلای چې ملت يې له ۴۰ کلني جګړې تيرېږي، غربت او بېکاري خپل وروستی حد ته رسېدلې وي او د ښار شاوخواسيمو کي جګړه روانه وي اوبيا دي يو اوياکلن کس دومره لوړه ميړانه کوي.
هميشه د يو هيواد دښمنان د خپلو موخو د پوره کولو لپاره چې په يو هيواد کي ترسره کوي بې ضميره خلک پر کارو ګماري ځکه چې په بې ضميره خلکو دوی خپلي موخي او اهداف ترسره کولای سي، زموږ د هيوا د دناخوالو يو اړخ خارجي او بل اړخ يې داخلي دی.
خارجي خوخارجي دی پر دې زه بحث هم نه کوم زه پر داخلي اړخ خبري کوم يو څوک چې ځان ته افغان ووايي او وطن مور وبولي هغه کله هم د خپلي خاوري سره خيانت نه کوي، نو هغو افغانانو ته مي خواست دی چې په افغانستان خفه کيږي چې ولي ورانيږي نو هغوی ته په کارده چې خپلي خاوري ته ژمنه وسپاري او د دغسي حوصله مندو سپين ږيرو په حق کي دي ظلم نه کوي ځکه چې د دې سپين ږيري کيسه يوه حماسه ده .
راځئ پردې وطن نور زړه وسوځوو او د دې وطن په هغه هيلو او آرمانونو لوبي ونکړو چې د هرافغان په رګ رګ کي د ميړاني، وطندوستۍ هيلي راپاروي. پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ